د مَدَنِي مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 2 اکتوبر، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 20 ربیع الآخر، کال 1448ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بیان

پۀ نوم

د الله پاک د کتاب اهمیت

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... نا فرمانیِ ذلیله او رسوا کړو (واقعه)
- ... د ترقیِ اصلي لاره
- ... کور به یې د ډیوې پۀ شان ځلېدو
- ... د قرآنِ کریم پۀ یو آیت باندې د عمل کولو برکت

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمہ: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

د دُرُودِ پاک فضیلت

د اَربعینِ عطّار، قسط: 2، صفحہ: 4، حدیثِ پاک نمبر: 4 دے:

اِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً سَیَّاحِیْنَ فِی الْاَرْضِ یُبَلِّغُوْنِیْ عَنْ اُمَّتِیَ السَّلَامَ

ترجمہ: په زمکه باندې څۀ داسې فرښتے ګرځي کومې چې زما د اُمت سلام ما ته رارسوي- (1)

جو اپنے کاموں کا انجام نیک چاہتے ہو | ہر ایک کام میں تم پیشتر درود پڑھو
نبی کے صدقے تمہاری مراد ہو حاصل | دعاکے اَوَّل و آخر اگر درود پڑھو
فرشتے جاتے ہیں لے کر درود حضرت کو | اُدھر پہنچتا ہے جو تم اِدھر درود پڑھو (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْكَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

1... نسائی، کتاب السھو، باب السلام علی النبی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحہ: 219، حدیث: 1279۔
2... نورِ ایمان، صفحہ: 57 ملتقطًا۔

وَاِذْ اٰتَیْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَ الْفُرْقَانَ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۵۳﴾

(پاره: 1، سورۂ بقره: 53)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صلّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او یاد کړئ چې کله مونږه موسیٰ ته کتاب ورکړو، او په ځ حق او باطِل کښې فرق کول چې تاسو هدایت ومومئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د وړومبۍ سیپارې د سورۂ بقره د آیت: 53 د اوریدو سعادت حاصل کړو، نن به مونږ د دې آیت مبارک مختصر وضاحت او د دې نه د مېلاؤېدونکي سبق د اوریدو سعادت حاصلوو، د الله پاک نه دُعا ده چې رَبّ کائنات مونږ ته په قرآنِ کریم د پوهېدلو، په دې باندې د عمل کولو او د دې په ذریعه د ژوند ښۀ کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم ۔

د آیت مبارک مختصر وضاحت

الله پاک فرمائي:

وَاِذْ اٰتَیْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او یاد کړئ چې کله مونږه موسیٰ ته کتاب ورکړو-

(پاره: 1، سورۂ بقره: 53)

یعنې اے بني اِسرائیلو! ◈ مونږه تاسو ته د فرعون د غلامۍ نه خلاصے درکړو، دا هم یو اِنعام وو ◈ ستاسو د پاره مو په دریاب کښې لارې جوړې کړې، دا هم یو اِنعام وو ◈ تاسو د څښې عبادت اوکړو، دا ډېر لوئې ظلم وو خو تاسو ته د توبې توفیق در عطا کړے

وَالْفُرْقَانَ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او پۂ حق او باطِل کښې فرق کول-

(پاره: 1، سورۂ بقره: 53)

یعنې داسې ښکلے کتاب کوم چې پۂ حق او پۂ باطِل کښې فرق کوونکے وو- [1] پۂ حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام باندې دا کتاب ولې نازل کړے شو؟ وه وفرمائیلے شو:

لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۵۳﴾

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: چې تاسو هدایت وموئ-

(پاره: 1، سورۂ بقره: 53)

یعنې اے بنې اِسرائیلو! دا کتاب مو دې د پاره درکړو چې تاسو پۂ هدایت باندې اوسئ! چې تاسو ته د ژوند ژواک کولو طور طریقې معلومې شي او تاسو پۂ دې باندې پۂ عمل کولو پۂ دُنیا کښې عظیم او پۂ اخرت کښې کامیاب شئ!

ځکه اے بنې اِسرائیلو! زمونږه دا اِنعام یاد کړئ! دا زمونږ خوږ محبوب حضرت مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړے دے، د هغوئ کلمه ولولئ او د دې اِنعامونو شُکر ادا کړئ! [2]

د هدایت معیار د الله پاک کتاب دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې آیت مبارک نه معلومه شوه چې د هدایت معیار کِتَابُ اللّٰہ دے- که چرې د هدایت موندلو ذریعه څۀ بله هم وے، مثلاً د عقل پۂ ذریعه هم هدایت

1... تفسیر طبری، پاره: 1، سورۂ بقرة، زیرِ آیت: 53، جلد: 1، صفحه: 324، حدیث: 932۔

2... تفسیر کبیر، پاره: 1، سورۂ بقرة، زیرِ آیت: 53، جلد: 1، صفحه: 514۔

حاصلېدے شو نو پۀ حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام باندې به د کتاب نازلولو حاجت نۀ وو، الله پاک پۀ هغوئي باندې کتاب نازل کړو او د هغې حِکمت يې وښودلو:

لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۵۳﴾

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: چې تاسو هدایت وموئ۔

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 53)

معلومه شوه چې د هدایت معیار صرف د الله پاک کتاب دے ◈ مونږ پۀ عقل باندې تجربې خو کولے شو خو هدایت نۀ شو موندلے ◈ د دُنیائي علومو پۀ ذریعه معلومات خو حاصلېدے شي خو د صحیح لارو هدایت، د اخرت د کامیابو ذریعه صرف او صرف د الله پاک کتاب دے، د دې نه علاوه د بل هیڅ ځائے نه هدایت نۀ شي مېلاؤېدے۔

گزر جا عقل سے آگے کہ یہ نُور | چراغِ راہ ہے منزل نہیں ہے

ضروري وضاحت: د کتابُ الله نه زما مُراد وَحي ده۔ یعنې د هدایت معیار وَحي ده، د الله پاک دِین دے۔ حدیثِ پاک هم وَحي ده، د پاک محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشادات دي، ځکه د الله پاک د کتاب پۀ شان هغه هم د هدایت سر چینه ده۔ مقصد دا دے چې مونږ د خپل عقل پۀ ذریعه هدایت نۀ شو موندلے، هدایت به صرف هم د دِین سره مېلاؤېږي۔

عقل مَحدُود دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا خبره همېشه یاد ساتل پکار ده چې زمونږ عقل چې کوم دے، دا محدود دے، زمونږ عقل صرف د اسبابو پورې وي، د اسبابو نه مخکښې چې کومې خبرې دي، د هغې هدایت مونږ ته صرف د دِین نه مېلاؤېدے شي - پۀ دې خبره تاسو زۀ د یو مثال پۀ ذریعه پوهه کووم۔ مولانا رُوم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پۀ مَثنَوِی شریف کښې فرمائي: یو ځل یو

فلسفي چرته پۀ یو ځائے باندې تېریدو، د قرآنِ کریم تِلاوت د هغه پۀ غوږو شو، یو ګس د سورۀ مُلک تِلاوت کولو، کله چې هغه د سورۀ مُلک اخري آیت تِلاوت کړو، پۀ کوم کښې چې الله پاک فرمائي:

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿۳۰﴾

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: تۀ وفرمایه: تاسو وګورئ خو! که سحر له ستاسو اوبۀ پۀ زمکه ننوځي نو هغه څوک دے چې هغه به تاسو له د سترګو پۀ وړاندې بهېدونکې اوبۀ راوړي؟ (پارہ 29، سورۃ الملک:30)

دا آیت مبارک یې چې واورېدو نو هٰغه فلسفي د تکبر او غرور نه ووئیل: دا کومه ګرانه خبره ده، که چرې الله پاک اوبۀ پۀ زمکه کښې ننباسي نو مونږ به د سائنس پۀ ذریعه د مختلفو آلاتو پۀ ذریعه بیا راوباسو- هٰغه فلسفي دا خبره اوکړه او پۀ خپله لار باندې روان شو، د شپې چې کله دے اودۀ شو نو خوب یې ولیدو چې یو ډېر طاقتور ګس راغلو، هغه هٰغه فلسفي له پۀ مخ باندې یوه مضبوطه څېړه ورکړه، د کومې سره چې د هغه دواړه سترګې راووتلې او ورسره چې یې پۀ سترګو کښې د کوم نُور یو یو څاڅکے اوبۀ وې، هغه پۀ زمکه باندې پرېوتلې او وَچې شوې-

پۀ خوب کښې راغلې هٰغه ګس ورته هم پۀ خوب کښې ووئیل: اے بد نصیبه! که چرې تۀ واقعي د کودالې، بېلچې او نورو سائنسي آلاتو پۀ ذریعه د الله پاک د مدد نه بغېر د زمکې نه اوبۀ راویستلے شې نو د خپلو سترګو نه وتلي دا دوه څاڅکي د زمکې نه راوباسه ؟

سحر چې کله فلسفي راپاڅېدو نو سترګې یې شلېدلې وې، هیڅ ورته نۀ ښکارېدل، د

غرور او تکبر ټوله نشه یې ختمه شوې وه۔ [1]

کسی کو تاجِ وقار بخشے، کسی کو ذِلّت کے غار بخشے

جو سب کے ماتھے پہ مہرِ قُدْرت لگا رہا ہے، وہی خُدا ہے

معلومه شوه چې زمونږه عقل محدود دے، مونږ صرف د هٰغه حده پورې سوچ کولے شو، چرته چې زمونږ عقل رسېږي خو د الله پاک قُدرت زمونږ د عقل نه ډېر مخکښې دے۔ ځکه صحیح لاره دا ده چې اِنسان په خپل عقل سره نۀ بلکې د الله پاک د کتاب په ذریعه هدایت حاصل کړي۔

د ماضي څۀ مثالونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اِنسان د خپل تېر وخت نه زدکړه کولے شي۔ د ماضي څۀ مثالونه وګورئ!

◈ حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک نبي دے، هغوئ د 950 کالو پورې خپل قام ته تبلیغ وفرمائیلو خو د قام جواب وو:

مَجْنُوْنٌ وَّ ازْدُجِرَ ۝

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: دا لېونے دے او نُوح ورتلے شو۔

(پارہ:27، سورۂ قمر:9)

یعنې دې بد بختو دِین لېونے او خپل عقل د هدایت مِعراج (د هدایت اعلیٰ درجه) ګڼله۔ هٰغه 80 کسان کومو چې په حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام باندې اِیمان راوړے وو، دې غېر مسلمو

1... مثنوی معنوی، دفتر دوم، انکار فلسفی بر ...الخ، صفحه:197196 مفصلاً۔

بے دِینو به هغوئي ته بَادِيُ الرَّاي (یعنې کم فهم) وئیل- اخر نتیجه یې څۀ راووتله؟ سخت طوفان راغلو، زمکې خپلې چینې وبهولې! د اسمان نه ښه ډېرې اوبۀ راوورېدلې، ټوله زمکه ډوبه شوه، څوک بچ شو--؟ صرف هٰغه 80 کسان کومو چې پۀ حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام باندې اِیمان راوړے وو-

یعنې دې غېر مسلمو، بے دِینو کومو چې به هغوئي ته بے عقله وئیل، پۀ حقیقت کښې هغوئي عقلمند وو، هغوئي دِین قبول کړو او ځان یې د دې تباهی نه بچ کړو، هٰغه غېر مسلمه پخپله بے عقله وو، کوم چې پۀ سېلاب کښې ډوب شول او تباه او برباد شول-

◈ دغه شان حضرت هُود عَلَيْهِ السَّلَام تشریف راوړلو، هغوئي خلقو له د دِین دعوت ورکړو، مخامخ عقل پرستو څۀ ووئیل؟ وه یې وئیل:

اِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْ سَفَاهَةٍ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بے شکه مونږه تا بېوقوفه ګڼو-

(پارہ:8، سورۂ الاعراف:66)

د دې نتیجه څۀ راغله؟ الله پاک پۀ هغوئي باندې د طوفان عذاب راولېږو، دا چې څومره عقل پرست وو، ټول پۀ ټوله پۀ دغه طوفان کښې تباه شول، مُردار شول، باقي څوک پاتې شول--؟ حضرت هُود عَلَيْهِ السَّلَام او پۀ هغوئي باندې اِیمان راوړونکي خوش قِسمته خلق-

معلومه شوه چې زمونږ عقل محدود دے، مونږ هر څۀ د خپل عقل نه نۀ شو زده کولے، هره خبره پۀ خپل عقل سره نۀ شو حل کولے، مونږ د دِین محتاجه یو، د الله پاک د کتاب محتاجه یو، مونږ ته هدایت مېلاؤېدل دي نو صرف او صرف د الله پاک د کتاب نه مېلاؤېدل دي بلکې ربښتیا خبره خو دا ده چې دُنیا هم ښه کېږي نو د دِین پۀ برکت سره

ښه کېږي او که د اخرت کامیابي هم مېلاؤېږي نو د دِین پۀ برکت سره مېلاؤېږي۔

د الله پاک کتاب پۀ دِین او دُنیا کښې د کامیابی ذریعه ده

الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا وَ اتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَ لَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۶۵﴾

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او که اهلِ کتابو اِیمان راوړے وے او پرهېزګاري یې اِختیار کړے وے نو ضرور به مونږه د هغوئي ګناهونه لرې کړي وے او ضرور به مو هغوئي د نعمتونو باغونو ته داخِل کړي وے۔

(پاره:6، سورۃ المَآئدۃ:65)

دا د اهلِ کتابو د پاره پۀ اخرت کښې د کامیابی ضمانت دے چې اهلِ کتاب د کومو د پاره چې اسماني کتابونه نازل کړے شول، که چرې دوئي اِیمان قبول کړے وے، تقویٰ یې اِختیار کړے وے نو د هغوئي خطاګاني به وراني کړے شوې وے او هغوئي به د نِعمتونو والا جَنَّت ته داخِل کړے شوي وے۔ نور فرمائي:

وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَ الْاِنْجِيْلَ وَ مَاۤ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او که هغوئي تورات او اِنجیل او کوم څۀ چې د هغوئي طرف ته د هغوئي د رب له طرفه نازل کړے شو هغه یې قائِم کړي وے نو هغوئي ته به د بره نه او د هغوئي د ښپو د لاندې نه رزق ورکولے کېدے۔

(پاره:6، سورۃ المَآئدۃ:66)

یعنې هٰغه خلق کومو ته چې تورات عطا کړے شو، کومو ته چې اِنجیل عطا کړے شو، که هغوئ پۀ تورات او اِنجیل باندې هم هٰغسې عمل کولے، لکه څنګه چې هغوئ ته حُکم ورکړے شوے وو نو څۀ به کېدل؟ اسمان به پۀ هغوئ باندې برکتونه وَرَوَل، زمکې به برکت زرغونولو یعنې د هغوئ د پاره به د اسمان او زمکې نه د رزق دروازې برسېره کړے شوې وے او هغوئ به پۀ دُنیا کښې هم ډېر کامیاب وے- خو هغوئ داسې وه نۀ کړل، د الله پاک پۀ کتاب باندې یې پۀ پوره توګه عمل وه نۀ کړو، ځکه ذِلت د هغوئ قِسمت جوړ شو، هغوئ پۀ دُنیا کښې هم د رسوایۍ سره مخ شول او پۀ اِخرت کښې هم ناکامه شول-

نافرمانیِ ذلیله او رسوا کړل

حضرت جُبَیر بِن نُفَیر رَحْمَۃُاللهِ عَلَیْه فرمائي: کله چې مسلمانانو **قُبرُص** فتح کړو نو ما ولیدل چې صحابئ رسول حضرت ابو درداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ځانله ناست دے او ژاړي، زۀ د هغوئ پۀ خِدمت کښې حاضر شوم او عرض مې اوکړو: عالي جاه! نن خو الله پاک مسلمانانو ته پۀ کافرانو باندې غلبه عطا کړې ده (یعنې نن خو د خوشحالیِ ورځ ده) او تاسو اوښکې توئېوئ؟ حضرت ابو درداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وفرمائیل: اے جُبَیره! غور خو اوکړه---! څوک چې د الله پاک نافرماني کوي، هغه د خپل رَبّ پۀ دربار کښې څومره بے حېثیته کیږي- د قُبرص اوسېدونکي څومره د غلبې او عزت والا وو، هغوئ د الله پاک حکمونه پرېښودل، د خپل رَبِّ کریم نافرماني یې اوکړه نو د هغوئ دا حال شو (چې نن هغوئ ماتې وخوړله او ذلیله او رسوا شول)- [1]

معلومه شوه چې کله د الله پاک پۀ کتاب باندې عمل پرېښودے شي نو ذِلت او رسوائي

1... زُہد لِاحمد بن حنبل، زہد ابی الدرداء رَضِیَ اللهُ عنه، صفحه:182، رقم:764۔

راځي، وګورئ چې د قُبرُص والا د عزت والا وو، د غلبې والا وو، کله چې هغوئ د الله پاک پۀ کتاب باندې عمل پرېښودو نو ذلیله او رسوا شول۔

قرآن والؤ---!! پۀ قرآن باندې عمل اوکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ◈ زمونږ نه مخکښېنو خلقو له تورات ورکړے شوے وو، هغوئ چې د څو پورې پۀ هغې باندې عمل کولو، عزت دار او د غلبې والا وو، چې کله یې عمل پرېښودو نو ذلیله او رسوا شول ◈ زبور والؤ ته زبور عطا کړے شو، هغوئ چې پرې د څو پورې عمل کولو نو کامیاب وو ◈ بیا اِنجیل والؤ ته اِنجیل عطا کړے شو، هغوئ چې هم د څو پورې عمل کولو نو کامیاب وو، کله چې یې عمل پرېښودو نو پۀ قِسما قِسم مشکلاتو کښې راګېر شول ◈ اوس زمونږ د بربادۍ نمبر دے، مونږ ته الله پاک د ټولو نه افضل کتاب قرآنِ کریم راعطا کړے۔ الله پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي: اے مسلمانانو---!! تاسو ته قرآن عطا کړے شو۔ ولې؟ د پاره د دې چې تاسو دا وه نۀ وایئ چې

لَوْ اَنَّاۤ اُنْزِلَ عَلَیْنَا الْكِتٰبُ لَكُنَّاۤ اَهْدٰى مِنْهُمْۚ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: که پۀ مونږه کتاب نازل شوے وے نو مونږه به د دوئي نه زیات هدایت حاصلوونکي [جوړ شوي] وے۔

(پارہ:8، سورۃالانعام:157)

یعنې اے مسلمانانو! دا مۀ وایئ چې تورات والؤ له تورات ورکړے شو، هغوئ بیا هم د نېغې لارې مسافر جوړ نۀ شول، اِنجیل والؤ له اِنجیل ورکړے شو، هغوئ بیا هم پۀ دُنیا او اخرت کښې کامیابي حاصله نۀ کړے شوه، که مونږ له کتاب راکړے شوے وے نو مونږ به پرې ښه پوره عمل کولو، پۀ دُنیا کښې به هم کامیاب وو او پۀ اخرت کښې به مو هم کامیابي

حاصلوله--!! واخلئ--!! تاسو ته د ټولو نه افضل کتاب قرآنِ مجید عطا کړے شو- اوس پۀ دې باندې عمل اوکړئ! او د دُنیا او د اخرت کامیابي حاصله کړئ!

د قرآن نه عِلاوه د کامیابی بله هیڅ لاره نشته

پۀ 6 سیپاره، د سورۀ مائده پۀ آیت: 68 کښې الله پاک اِرشاد فرمائي:

قُلْ یٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَسْتُمْ عَلٰى شَیْءٍ حَتّٰى تُقِیْمُوا التَّوْرٰىةَ وَ الْاِنْجِیْلَ وَ مَاۤ اُنْزِلَ اِلَیْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: تۀ وفرمایه اے اهلِ کتابو! تر څو پورې چې تاسو تورات او اِنجیل او څۀ چې ستاسو طرف ته ستاسو د رب له طرفه نازل کړے شوي دي هغه قائِم نۀ کړئ تاسو پۀ هیڅ څیز نۀ یـئ-

(پارہ:6، سورۃ المائدۃ:68)

حضرت سفیان بِن عُیَینه رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د عِلمِ حدیث ډېر لوئي عالِم دے، هغوئي فرمائي: د قرآنِ کریم دا آیت مبارک زما د پاره د ټولو آیتونو نه درونـد دے- (1)

مطلب دا چې هٰغه خلق کومو ته چې تورات شریف عطا کړے شوے وو، کومو ته چې اِنجیل عطا کړے شوے وو، پۀ دې آیت مبارک کښې هغوئي ته وفرمائیلے شول: اے اهلِ کتابو! د څو پورې چې تاسو د الله پاک نازل کړے شوے کتاب پۀ پوره توګه خپل نۀ کړئ، پۀ دې باندې پۀ پوره توګه پۀ عمل کولو زمونږ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کلمه وه نۀ لولئ، د هٰغه وخته پورې ستاسو هیڅ حیثیت نشته-

---

1 ... بخاری، کتاب التفسیر، باب سورۃ المائدۃ، صفحہ:1143۔

دغه شان مونږ هم د کتاب والا یو، مونږ ته الله پاک د قرآنِ کریم نِعمت راعطا کړے دے، لهذا چې مونږ هم تر څو پورې پۀ قرآنِ کریم باندې پۀ پوره توګه عمل نۀ وي کړے، زمونږه هم هیڅ حیثیت نشته، هیڅ مرتبه نشته-

معلومه شوه چې که چرې مونږ پۀ دُنیا او پۀ اخرت کښې خپل ځۀ حیثیت غواړو نو د هغې صرف هم یوه لاره ده، هغه دا چې مونږ پۀ قرآنِ کریم باندې پۀ پوره توګه عمل اوکړو، د دې قرآنِ کریم پۀ ذریعه الله پاک عزت او وقار عطا کوي، زمونږ چې کله هم ترقي نصیب شوې ده نو د دې قرآن پۀ ذریعه نصیب شوې ده او د قیامت پورې چې به کله هم مسلمانان ترقي کوي نو د دې قرآن پۀ ذریعه به یې حاصلوي، د دې نه علاوه بله هیڅ لار نشته-

د ترقی اصلي لاره

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن که چرې مونږ لږ غور اوکړو نو دلته عام طور خلق پۀ خپل مینځ کښې خبرې او تبصرې کوي او وائي چې غیر مسلمو ترقي اوکړه، غیر مسلمه سپوږمی ته وختل، وغیره وغیره- که پۀ حقیقت کښې وکتلے شي نو پۀ اصل کښې ترقي کافرانو نۀ ده کړې بلکې وروستو مونږ پاتې شوي یو- پۀ دې خبره باندې پۀ یو مثال سره ځان پوهه کړئ چې یو ګس پۀ موټر کښې ناست وي او چلوي یې او بل ګس پۀ موټر سائیکل باندې ناست وي نو یقیناً چې د موټر رفتار به زیات وي، ځکه به موټر مخکښې ځي خو که موټر والا موټر پۀ 40 سپیډ سره چلوي او موټر سائیکل والا پۀ 80 رفتار کښې روان وي نو یقیناً چې موټر سائیکل والا به مخکښې ووځي- بیا به مونږه ځۀ وایو؟ چې موټر سائیکل کښې د موټر نه ډېر سپیډ دے؟ نا--!! مونږ به وایو چې سپیډ خو د موټر تېز دے خو موټر والا د ځان سره پۀ موجودو سهولیاتو اِستعمالولو کښې د ناراستۍ نه کار واخستو-

دا حال زمونږ هم دے، د 100 فیصده یقیني ترقی، کامیابی، د اوچت والي او عروج ته د رسیدلو چې کوم اسباب او ذریعې د مسلمانانو سره دي هغه د دُنیا د بل قام سره نشته خو مسئله دا ده چې مونږ دا ذریعې په غِلاف کښې رانغښتې دي او په ماریٰ کښې مو ایښودې دي، که چرې مسلمانان واقعي په صحیح معنو کښې د قرآنِ کریم نظامِ زندګي اِختیار کړي نو یقین اوکړئ چې زمونږه معاشره د ورځو په حساب سره ترقي کولے شي او دا صرف جذباتي خبر نۀ ده بلکې حقیقت دے- د دې صرف یو مثال واورئ!

د حضرت عُمر بن عبد العزیز رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ دورِ خِلافت

وګورئ چې نن سبا تقریباً په هر ځائے کښې د غریبیٰ فریاد کولے شي- د دې غریبیٰ د ختمولو د پاره ډېرې زیاتې طریقې اِختیار کړے شوې دي او نن هم اِختیارولے شي، په 19 صدیٰ عیسویٰ کښې یعني د نن نه تقریباً 150 کاله مخکښې په دُنیا کښې ډېر اِنقلابونه راغلل، د مَعِیشَت ډېر نِظامونه مثلاً سوشل اِزم (***Socialism***)، کمیونزم (***Communism***) وغیره قائم شول، د دې ټولو هم یوه نعره وه: **غریبي ختمه کړئ---!!**

- کله د مزدورانو د حقونو خبره اوکړے شوه کله د ډوډیٰ او د جامو خبره اوکړے شوه
- کله د غریبانو د حقونو خبره اوکړے شوه، د سرمایه دارۍ نِظام جوړ شو او دا ټول نِظامونه نن هم د دُنیا په مختلفو ملکونو کښې لګېدلي دي خو افسوس چې د 150 کالو یا د دې نه هم ډېره موده تېره شوه، په دې کښې یو هم د معیشت نِظام اوسه پورې غریبي ختمه نۀ کړه بلکې ختمول خو یې لویه خبره ده چې ورځ په ورځ غریبي نوره هم زیاتېږي، کمېږي نۀ-

اوس لږ د قرآنِ کریم پاک نِظام ته نظر اوکړئ! حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ ډېر د اوچتې مرتبې او عادِل حکمران وو، هغوئ تقریباً 30 میاشتې یعني دوه نیم کاله حکومت

کړے او په دې 30 میاشتو کښې دننه یې په صحیح معنو کښې قرآني نِظام نافذ کړو، نو د هٰغه پاک نِظام چې کوم برکتونه ظاهر شول، په هغې کښې یو دا هم وو چې د حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ په خِلافت کښې زکوٰۃ ورکوونکي خو ډېر وو خو زکوٰۃ اخستونکے غریب به نۀ مېلاؤېدو- د حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ ګورنرانو به هغوئي ته خطونه رالېږل چې عالي جاه! د زکوٰۃ رقم راجمع کړے شوے دے خو څوک داسې غریب نۀ مېلاؤېږي چې زکوٰۃ ورکړے شي۔ (1)

اے د خوبِ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** غور اوکړئ چې چرته 150 کاله موده او چرته صرف 30 میاشتې---! او نتیجې ته یې وګورئ! دلته په 150 کالو کښې د دُنیا د لوئي لوئي فلسفیانو جوړ کړے شوي نِظامونه د غریبیِ ختمول خو لویه خبره ده چې چرته یې کمه هم نۀ کړه او هلته حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ صرف په 30 میاشتو کښې د الله پاک ښودلے شوے پاک نِظام نافذ کړو نو غریبي ختمه شوه- دا دے د قرآنِ کریم برکت---! معلومه شوه چې د اِنسانانو د ترقيِ او **کامیابیِ صرف او صرف یوه لاره ده او هغه ده قرآن: په قرآنِ کریم باندې په صحیح معنو کښې عمل کول-** خو آه! مونږ خو قرآنِ کریم ته غِلاف واچولو او په المَارو کښې مو کېښودلو، وضاحت اوکړم: د قرآنِ کریم ادب کول خو نښه دي خو صِرف ادب نۀ بلکې د قرآنِ کریم تِلاوت هم کول دي، په دې باندې ځان هم پوهه کول دي، په دې باندې عمل هم کول دي، آه! افسوس چې هٰغه پاک قرآن کوم چې په دواړو جهانو کښې زمونږ د کامیابیِ پېغام راوړے وو، مونږ د الله پاک د دې پاک کلام نه مخ واړولو---!

---

1 ... سیدنا عمر بن عبد العزیز کی 425 حکایات، صفحہ:460458 ملتقطًا۔

کور به د ډیوې په شان ځلېدو

یو صحابئ رسول دے: حضرت ثَابِت بن قَیس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ - د شپې به د هغوئي کور داسې ځلېدلو، لکه څنګه چې ډیوه بَله وي (ظاهره ده چې په هغه وخت کښې د لائټ او بجلی اِنتظام خو نۀ وو، د شپې به تیاره وه خو د حضرت ثابِت بن قَیس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کور مبارک به د شپې ځلېدلو) خلقو د آقا کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې د دې خبرې ذِکر اوکړو نو نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: ثَابِت بن قَیس به ضرور د شپې د **سورۀ بقره** تِلاوت کوي- د حضرت ثَابِت بن قَیس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه چې کله په دې باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو هغوئي ووئیل: آؤ! واقعي چې زۀ د شپې د **سورۀ بقره** تِلاوت کووم- [1]

چھوڑو! یہ ظلمتوں کے شِکوے کرو نہ ہر دَم
ہے روشنی کی خواہش، قرآن پڑھ کے دیکھو

سُبْحٰنَ اللّٰہ! معلومه شوه چې قرآنِ کریم نُور دے- د دې د لوستلو سره، د دې د تِلاوت کولو سره زړونه هم روښانه کېږي او که الله پاک وغواړي نو په ظاهره هم نُور نصیب کېږي-

د قرآن سره تعلق جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! قرآنِ کریم د برکت کتاب هم دے، د هدایت کتاب هم دے، د ژوند کتاب هم دے، په دې کښې زمونږ د پاره هر څۀ موجود دي، بس کمے د دې خبرې دے چې مونږ قرآنِ کریم لولو نۀ، د قرآنِ کریم تِلاوت نۀ کوو، په دې کښې الله پاک څۀ فرمائیلي دي؟ په دې باندې د ځان پوهه کولو د پاره وخت نۀ اوباسو، په **تورات شریف**

---

1 ... فضائل القرآن للمستغفری، ملجأ الی الله، صفحه:200، حدیث:708۔

کښې دي چې (الله پاک اِرشاد فرمائي:) اے بنده! آيا تا له زما نه حيا نۀ درځي؟ چې تۀ پۀ لاره روان يـې، تا ته د کوم ورور خط راشي نو تۀ د لارې نه اخوا شې او کښېنې او د هغې يو يو حرف پۀ غور غور سره لولې د دې پورې چې د هغې يو لفظ هم نۀ پرېږدې، دا زما کتاب دے، ما دا ستا طرف ته نازل کړے دے، وګورہ! پۀ دې کښې ستا د پاره څومره تفصيل دے، ما څومره ځل تۀ پوهه کړې د پاره د دې چې تۀ پۀ دې کښې غور او فِکر اوکړې بيا هم تۀ د دې نه مخ اړوې- آيا زما مرتبه ستا پۀ نزد ستا د ورور نه هم کمه ده؟ [1]

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! واقعي چې د غور کولو خبره ده ◈ اوس چې د چا پۀ موبائل باندې رنګ راشي ◈ ايس ايم ايس (SMS) راشي ◈ پۀ واټس اپ (WhatsApp) باندې مېسج راشي ◈ د چا مِس کال راشي ◈ حالانکې مونږ پۀ جومات کښې يو ◈ د جمعې نـمونځ کېدونکے دے ◈ خو مونږ پرېشانه يو ◈ پۀ زړۀ کښې مو تادي وي ◈ چې کله به موبائل راوباسم ◈ کله به مېسج لولم ◈ کله به ريلائي کووم؟ ◈ بعضې وخت بالکل هم د نـمونځ پۀ وخت رنګ راشي ◈ پۀ زړۀ کښې يوه تادي وي ◈ پته نۀ لګي چې د چا کال به وي ◈ پته نۀ لګي چې د چا مېسج به راغلے وي ◈ د سلام ګرځولو سره سم دُعا هم نۀ کوو، د ټولو نه مخکښې موبائل راوباسو او چيک کوو يـې ◈ چې څوک وو؟ ◈ چا کال اوکړو ◈ چا مېسج اوکړو؟ اوس لږ سوچ اوکړئ چې قرآنِ کريم زمونږ د رَبّ پيغام دے، زمونږ پۀ نوم دے، مونږ دې له څومره اهميت ورکوو؟ څومره تِلاوت يـې کوو؟ پۀ دې باندې د ځان پوهه کولو څومره کوشش کوو؟ بيا

---

1 ... احياء علوم الدين، كتاب آداب تلاوة القرآن، الباب الاول فی فضل القرآن، جلد: 1، صفحه: 362۔

پۀ هغې باندې د عمل کولو څومره کوشش کوو؟

افسوس چې اوس زمونږه حالت بالکل خرابیدو طرف ته روان دے ◈ وړومبے خو د قرآنِ کریم تِلاوت کوي څوک؟ ◈ قرآنِ کریم صرف د المَاریٰ سِنګلا وي ◈ بیا چې څوک تِلاوت کوي، پۀ هغوئي کښې هم ډېر داسې خلق دي کوم چې صرف د برکت د پاره تِلاوت کوي ◈ ځینې خوش قِسمته خلق سحر سحر دُکان کولا و کړي او تِلاوت کوي د پاره د دې چې پۀ کاروبار کښې یې برکت وي ◈ زنانه پۀ کورونو کښې سحر وختي تِلاوت کوي ◈ کله چې څوک د څۀ سختې سره مخ شي ◈ څۀ پریشاني راشي نو خوش نصیبه، د دِیني ذِهن لرونکي د مدرسې طالبِ علمان راوغواړي او د قرآنِ پاک ختم اوکړي، یقیناً چې دا ښه خبره ده، پۀ دې کښې هیڅ شک نشته چې قرآنِ کریم سراسر برکت دے ◈ د قرآنِ کریم پۀ کور کښې ایښودل هم برکت ◈ قرآنِ کریم ته کتل هم برکت ◈ قرآن کریم له لاس ورورړل هم برکت ◈ قرآنِ کریم لوستل هم برکت ◈ پۀ قرآنِ کریم باندې ځان پوهه کول هم برکت دے ◈ قرآنِ مجید اَلْحَمْدُلِلّٰه! سراسر برکت دے خو دا هم یاد ساتئ چې قرآنِ کریم صرف **د برکت کتاب** نۀ دے بلکې **د عمل کتاب** هم دے۔ د قرآنِ کریم اصلي برکت پۀ دې باندې پۀ عمل کولو کښې دے۔ مونږ چې لږ غور اوکړو چې یو ګس سحر وختي دُکان کولا و کړي، هلته د برکت د پاره د قرآنِ کریم تِلاوت کوي خو ◈ د هغه کاروبار د سود دے ◈ کله چې هغه سامان خرڅوي نو دروغ وائي ◈ د دروغو قَسَمونه خوري، اوس ووایئ چې قرآنِ کریم خو فرمائي چې ◈ پۀ دروغژنو د الله پاک لعنت دے ◈ قرآنِ کریم خو د سُود خور سره د جنګ اِعلان کوي، بیا به داسې ګس ته د قرآنِ مجید نه برکت څنګه مېلاؤېږي--؟ ځکه **اے د خورِ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** قرآنِ

مجید **د برکت کتاب** هم دے، دا د برکت د پاره ضرور لولئ، د دې سره سره قرآنِ مجید **د عمل کتاب** هم دے، ځکه پۀ مونږ باندې لازم دي چې مونږ پۀ قرآنِ کریم باندې ځان پوهه کړو او پۀ دې باندې عمل هم اوکړو۔

د قرآنِ کریم پۀ یو آیت باندې د عمل برکت

حضرت فُضیل بن عیاض رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ دپر لوئي ولیُّ الله دے، د توبې نه مخکښې هغوئي دپر خطرناک ډاکو وو، خلق به د هغوئي د نوم نه وپرېدل، حضرت فضیل رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د قرآنِ مجید صرف پۀ یو آیت باندې عمل اوکړو، یوه ورځ حضرت فضیل رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د یوې قافلې طرف ته روان شو، پۀ قافله کښې یو کَس د قرآنِ کریم تِلاوت کولو، هغه د 27 سیپارې، د سورۀ حدید آیت: 16 ولوستو:

اَلَمْ یَاْنِ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: آیا د اِیمان والؤ د پاره لا هٰغه وخت نۀ دے راغلے چې د هغوئي زړونه د الله د یاد او د هٰغه حق د پاره تیټ شي کوم چې نازل شوے دے۔

(پارہ27، سورۂ الحدید:16)

د دې آیت پۀ اورېدو د حضرت فضیل رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ داسې حال شو، لکه چا چې هغوئي پۀ غشي باندې پۀ زړۀ ویشتلے وي، هغوئي وفرمائیل: اِلٰهی! هٰغه وخت راغلے دے چې مونږ ستا پۀ لار روان شو، بیا حضرت فضیل رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ پۀ سلکو سلکو وژړل۔ [1]

◈ حضرت فضیل رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ دې یو آیت مبارک ته سر تیټ کړو ◈ د هغې تقاضې یې

---

1 ... تذکرۃ الاولیاء، ذکر فضیل بن عیاض رَحمۃُاللہِ عَلَیْہ، صفحہ:79۔

پوره کړي ◈ توبه يې کړه ◈ د څومره خلقو مال چې يې لوټ کړے وو، ټول يې واپس کړو ◈ عِلمِ دِين يې زده کړو ◈ پۀ عبادت او رياضت کښې مصروف شو، بيا الله پاک هغوئ ته داسې مقام عطا کړو چې حضرت فضيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو ځل پۀ منیٰ شريف کښې پۀ يو غر باندې موجود وو، هغوئ وفرمائيل: که يو وَلِيُّ الله دې غر ته حکم اوکړي چې اے غره! اوږد شه نو دا غر به سمدستي اوږد شي- بس دومره وئيل چې غر پۀ اوږدېدو شو، حضرت فضيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: اے غره! ودرېږه---!! ما تا ته حکم نۀ دے کړے- د دې اورېدو سره غر ودرېدو- (1)

چاہیں تو اشاروں سے اپنے کایا ہی پلٹ دیں دنیا کی

یہ شان ہے اُن کے غلاموں کی، سرکار کا عالم کیا ہو گا

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** تاسو وکتل چې پۀ شروع کښې حضرت فضيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه صرف پۀ يو آيت باندې عمل اوکړو، بيا يې د قرآن او حديث پۀ تعليماتو باندې عمل شروع کړو نو الله پاک هغوئ ته څومره ځانګړې مرتبه عطا کړله---!

وہ مُعَزَّز تھے زمانے میں مسلمان ہو کر

[هغه وخت مسلمانان پۀ عزت او درناوي کښې وو]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا حقيقت دے چې مسلمانانو چې کله هم د قرآنِ کريم نه مخ اړولے دے، د ذِلت او رسوايۍ نه بغېر يې هيڅ لاس ته نۀ دي راغلي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان ، تابعين، د دِين بزرګان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم او د الله پاک نېکان بندګان پۀ قرآنِ کريم

1... جامع کرامات اولیاء، حرف الفاء، فضیل بن عیاض، جلد:2، صفحہ:361۔

باندې عمل کوونکي وو، د قرآن کریم سره یې خپل ټرون مضبوط کړے وو، هغوئي به د خپل ژوند هر یو کار د قرآن او د سُنَّت پۀ رڼا کښې کولو او پۀ دې باندې به پۀ اِستقامت سره قائم اوسېدل، نتیجةً الله پاک هغوئي ته عروج ورعطا کړو، پۀ زمانه کښې د هغوئي عزت هم وو، هغوئي ترقي هم حاصله کړې وه او پۀ هر مېدان کښې به کامیابي د هغوئي نصیب کېدله- که چرې مونږ د صحابۀ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان او د خپلو بزرګانو د ژوند تېرولو طور طریقو ته وګورو نو رشک راځي چې دا څومره د اوچتې مرتبې والا خلق وو، دلته به قرآنِ کریم دوئي ته څۀ حُکم اوکړو، هلته به پرې هغوئي عمل شروع کړو، د قرآنِ کریم د حُکم مېلاؤېدو نه پس به یې لږ شان د تاخیر نه کار اخستل هم د هغوئي خوښ نۀ وو-

خوښ باغ یې صدقه کړو

د بُخاري شریف حدیثِ پاک دے: حضرت اَبُو طَلحَه اَنصاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ډېر مالداره وو، د هغوئي پۀ خپل مال کښې **بَیرُحَا** نومې باغ ډېر خوښ وو، کله چې دا آیت مبارک نازل شو:

لَنۡ تَنَالُوا الۡبِرَّ حَتّٰی تُنۡفِقُوۡا مِمَّا تُحِبُّوۡنَ ؕ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: تاسو به هیڅکله نېکي وه نۀ مومئ تر څو پورې چې د الله پۀ لاره کښې خپل خوښ څیز خرچ نۀ کړئ-

(پاره 4، سورۀ آل عمران:92)

نو حضرت اَبُو طَلحَه اَنصاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دربار رسالت ته حاضر شو او عرض یې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زما پۀ خپلو ټولو باغونو کښې **بَیرُحَا** د ټولو نه زیات خوښ دے،

زۀ دا باغ د الله پاک پۀ لار کښې صدقه کووم۔ [1]

سُبْحٰنَ الله! دا دے پۀ قرآنِ مجید باندې د عمل انداز! دلته د قرآن تِلاوت وشو، هلته یې پۀ هغې باندې عمل اوکړو۔ مونږ څۀ کوو؟ د الله پاک پناه! د الله پاک پناه---! اوس زمونږ پۀ معاشره کښې داسې نادانه هم شته کوم چې د اِسلام پۀ خبرو اورېدو دې ته دَقیَانُوسِي (یعنې پخوانۍ خبرې) وائي او مَعَاذَ الله! ځان نه تش پۀ نوم باندې جِدت پسند جوړوي، الله پاک دې مونږ ټول د داسې نادانۍ او د داسې نادانو نه همېشه محفوظ وساتې۔

اَز یَکْ آئین مُسَلْمَان زِنْدَہ اَسْت	پَیْکَرِ مِلَّت زِ قُرآن زِنْدَہ اَسْت

ترجمه: اِسلام او مسلمانان صرف هم پۀ یو قانون ژوندي پاتې کیږي او د هٰغه قانون نوم قرآن دے۔

د عالِمانو نه پوښتنه ضروري ده

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږ له هُم پۀ قرآنِ کریم باندې عمل کول پکار دي، پۀ دې کښې زمونږ خبر دے، پۀ دې کښې ترقي ده، پۀ دې کښې کامیابي ده خو یوه خبره یاده ساتئ! چې پۀ قرآنِ کریم باندې عمل خو ضروري کول دي خو پۀ خپل عقل باندې نۀ، که د خپل عقل نه کار اخلئ نو هسې نۀ چې د شېطان پۀ چلونو کښې راګېر شئ او پۀ قرآنِ کریم باندې د عمل کولو پۀ ځائے پۀ شېطان پسې وروستو وروستو د دوزخ طرف ته روان شئ، ځکه عاشقانِ رسول عُلمائے کرام کومو ته چې الله پاک د قرآنِ کریم

1... بخاری، کتاب التفسیر، باب ﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى...الخ﴾، صفحه:1129، حدیث:4554 خلاصةً۔

عِلم عطا کړے دے، د قرآنِ کریم پوهه چې چا ته عطا کړے شوې ده، هم د هغوئي نه پۀ پوښتنه کولو پۀ قرآنِ کریم باندې عمل کول دي- الله پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

د صِرَاطُ الـجنان ایپلي کښن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! دعوتِ اِسلامي مونږ ته د جدید ټېکنالوجۍ پۀ ذریعه هم د عِلمِ دِین ښودلو او د نېکۍ د دعوت عام کولو موقعې راکوي- د دعوتِ اِسلامي د I.T ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کښن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې Sirat ul Jinan Quran & Tafsir (صِرَاطُ الـجنان قرآن اینډ تفسیر) دے۔ پۀ دې ایپلي کښن کښې ◈ مکمل قرآنِ کریم ◈ د اعلیٰ حضرت، اِمام اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ لیکلې ترجمۀ کنزالایمان ◈ د دې وخت د تقاضو مطابق ډېره اسانه ترجمه، ترجمۀ کنزالایمان او ◈ پۀ اسان انداز کښې لیکلے شوے د ټولو نه جدید (Latest) تفسیر صِرَاطُ الـجنان شامل دے- ◈ د دې ایپلي کښن پۀ مدد سره قرآنِ کریم، سره د ترجمې او تفسیر د لوستلو سره سره پۀ اسانۍ سره قرآني آیتونه، ترجمه او تفسیر د وټس اپ (Whats App)، فېس بُک (Facebook) او نور سوشل مېډیا پۀ ذریعه د خپلو دوستانو سره شیئر کولے هم شئ- دا ایپلي کښن پۀ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، عِلمِ دِین زده کړئ او نورو ته د رسولو سره د نېکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ کوته کول)

مسئله: پۀ سجدۀ سهو کښې هم پۀ اِمام پسې تلل واجِب دي-

وضاحت: بعضې وخت اِمام صاحب پۀ نـمونځ کښې سجدۀ سهو کوي، پۀ داسې موقع باندې هٰغه مقتديان د کومو چې ځينې رکعتونه پاتې وي، مثلاً پۀ دوېم يا دريم رکعت کښې شامل شوي وي، هغوئ بعضې وخت پرېشانه کيږي چې اوس به څۀ کوم؟ پۀ مسئله باندې ځان پوهه کړئ چې پۀ اِمام پسې تلل واجِب دي- [1] د سجدۀ سهو پۀ معامله کښې هم واجِب دي، اګر که زمونږ نه څۀ هېر شوي نۀ وي، د اِمام صاحب نه هېر شوي وي، پۀ هغوئ باندې سجدۀ سهو لازم شوه نو پۀ ټولو مقتديانو باندې سجدۀ سهو واجِب شوه- بيا چې کوم مقتديان وروستو شامل شوي وي، هغوئ له دوه کارونه کول دي: (1): چې کله اِمام صاحب يو طرف ته سلام وګرځوي نو هغوئ به سلام نۀ ګرځوي (2): د اِمام صاحِب سره به سجدۀ سهو وکړي-

اِمام صاحب سلام وګرځولو او مَسبُوق (يعنې چا ته چې څۀ رکعتونه پاتې وو هغه) د خپلو (باقي پاتو رکعتونو) پوره کولو د پاره ودرېدو، بيا اِمام سجدۀ سهو اوکړه نو د څو پورې چې هغه د دې رکعت سجده نۀ وي کړې واپس دې راشي او د اِمام سره دې سجده اوکړي، کله چې اِمام صاحب سلام وګرځوي، نو بيا دې خپل [باقي پاتې رکعتونه] اوکړي، که چرې

1... رد المحتار على الدر المختار، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، مطلب اطالة الركوع للجائ، جلد:2، صفحه:244۔

واپس نۀ شو او خپل [ركعتونه] يـې اوكړل نو پۀ اخره كښې به سجدۀ سهو وي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احكامو د زده كولو او پۀ هغې باندې د عمل كولو توفيق راعطا كړي۔ اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

يَا اَللّٰهُ

خوک چې د هر نـمونځ نه پس د الله پاک خوږ نوم يَا اَللّٰهُ 100 كرته لولي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د هغۀ باطِن به پراخه شي۔ [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راعطا كړي۔

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... بهارِ شريعت، جلد:1، حصه:4، صفحه:716 ملتقطاً۔

2... مدنی پنج سوره، صفحه:246۔